# په پښتو ګرامر کې د خپلواک مورفیم (نوم ) جوړښت او دریځ

لیکوال: **پوهنمل نجیب الله عمری**
د بدخشان پوهنتون، ادبیاتو پوهنځی پښتو څانګې استاد
برېښنا لیک پته: Nejeebullah Omari220gmail.com
اورکید پېژند پاڼه: https://orcid.org/0009-0005-4803-2970

لیکوال*: **پوهنیار عظمت الله ضمیری**
د بدخشان پوهنتون، ادبیاتو پوهنځی پښتو څانګې استاد
برېښنا لیک پته: Azmatullahzamiri76@gmail.com
اورکید پېژند پاڼه: https://orcid.org/0009-0006-1296-0959

**لنډیز**

په دې څېړنیزه مقاله کې د پښتو ژبې په ګرامر کې د خپلواک مورفیم، په ځانګړې ډول د "نوم" جوړښت، ډولونه، ځانګړتیاوې او نحوی (Syntax) دریځ په علمی ډول څېړل شوی دی. خپلواک مورفیم هغه کوچنی ژبنی واحد دی چې خپله مانا لری او په یوازې توګه کارېدلی شي. نوم د خپلواک مورفیم تر ټولو مهم ډول دی چې د ژبې په جوړښت کې بنسټیز رول لری. په دې مقاله کې د نوم د جوړښت اړخونه (ساده، مرکب، مشتق)، د نوم ډولونه (خاص، عام، جمعی، مجرد، عینی او انتزاعی) او د جملې په دننه کې د نوم نحوی دریځ (فاعل، مفعول، مضاف‌الیه، قیدی حالتونه) په تفصیل سره بیان شوی دی. همدارنګه، د بېلابېلو بېلګو په مرسته د نوم کارونه روښانه شوی دی. پایله دا ښیی چې نوم نه یوازې د مانا انتقال مهمه وسیله ده، بلکې د جملې په جوړښت کې هم اساسی رول لری.

**بنسټیز ویی:** ګرامر ، نوم ، حالت، جمله، مورفیم

# The structure and position of the independent morpheme (noun) in Pashto grammar

Author * **Nejeebullah Omari**
Pashto Department Faculty of Literature، Badakhshan University
Email Nejeebullah Omari220gmail.com
Orcid https://orcid.org/0009-0005-4803-2970

Author **Azmatullah zamiri**
Pashto Department Faculty of Literature، Badakhshan University
Email Azmatullahzamiri76@gmail.com
Orcid https://orcid.org/0009-0006-1296-0959

## Abstract

In this research article، the concept of the free morpheme in Pashto grammar, particularly the structure، types، characteristics، and syntactic role of the noun, is examined in a scholarly manner. A free morpheme is the smallest linguistic unit that carries meaning and can function independently. The noun is considered the most important type of free morpheme، playing a fundamental role in the structure of the language .This study explores the structural aspects of nouns (simple، compound، and derived)، their types (proper، common، collective، abstract، and concrete)، and their syntactic roles within a sentence (subject، object، genitive، and adverbial functions) in detail. Furthermore، the use of nouns is clarified through various examples. The findings indicate that the noun is not only a crucial means of conveying meaning but also plays an essential role in the structure of sentences .

**Keywords:** Grammar، Noun، State، Sentence, Murfim

*

## سریزه

هغه ویی یا کلمه ده، چې بې د زماني له ارتباطه د راز راز څېزونو او پدیدو ځرګندونه کوی هغه ته نوم وایې لکه: احمد، پوهه ، ژبه ، کور، رمه او داسې نور.

ګرامر د ژبې علمی تشریح ده دا تشریح د یو ډول ژبني ځانګرو قواعدو او اصولو پربنسټ ترسره کیږی؛ که چېرې د یوې ژبې علمی تشریح وغواړو؛ لازمه ده،چې لاندې برخو سره بلدیت ولرو:

۱- د ژبې غږیز نظام

۲- د ژبې وییز نظام

۳- د ژبې نحوی نظام

۴- د فونیم د بدلون نظام

۵- د ژبې سیمانټکس نظام ( خویشکی،۱۳۹۲ : ۷۱)

د ژبې د یادو جوړښتونو یا ژبنی نظامونه په درشل کې لومړنی نظام چې په ګرامر کې د تشریح او د پام وړ دی، هغه د غږونو مطالعه ده، غږونه د ژبې بنسټ جوړوی، وروسته تر دې نظام د وییز نظام موضـــوع مخې ته راځې، په دې ( وییز نظام ) کې د نوم بحث ډېر د پام وړ دی، ځکه نوم یو معنا لرونکی جوړښـــت دی؛ هغه مورفیم دی، چې پرڅېزونو د زماني له ارتباط بغیر دلالت کوی. ډولونه لری، نو زموږ د څېړنې اساسی موخه داده،چې د نوم جوړښت، دریځ په ټولیزه توګه تشریح کړو، همدا راز اهمیت یې په دې کې دی، چې یاده ټاکلې موضـــوع تر اوســـه په ټولیزه توګه تر ځانګړی عنوان لاندې نه ده څېړل شوې ، کوښښ شوی، چې د نوم دریځ او اهمیت په ګرامری جوړښـــتونو کې د نورو خورو ورو څېړنو په پرتله دلته ډېره وڅېړل شـــی، خو په ټولیزه توګه ، څېړل شـــوی نه دی .باوری یم ، چې زما کار به په یو څو کربنـــو کې ترې بېل وی، د تشـــریحی میتود څخه ګټه پورته شوی، بېلکې وړاندې شوې، څېړنه په یو څو ماخذونه په ګټې اخیستنې سره را ټوله شوی ده.

## د ستونزې بیان

ســره له دې چې د مورفیم او مورفولوژۍ په اړه په نړیواله کچه ګڼ علمی آثار لیکل شــوی، خو په پښـتو ژبه کې د خپلواک مورفیم، په ځانګړی ډول د **نوم/اسم د خپلواک مورفیم** علمی او معیاری څېړنه لا هم له ګڼو ســـتونزو ســـره مخ ده. تر اوســـه د پښـــتو ژبپوهنې په ډېرو اثارو کې د مورفیمونو مفهومی، ساختاری او نحوی اړخونه په بشپړ ډول نه دی تشریح شوی، له همدې امله د موضـوع د څېړنې اړتیا لا جدی کېږی. دغه موضـوع د لاندې سـتونزو په دلیل د علمی شـننې اړتیا لری.

## د څېړنې پوښتنې

اصلی پوښتنه : نوم څه ته وایی او د جوړښت، جنسیت ، تغییر او عدد له مخې پر څو ډوله دی ؟

فرعی پوښتنې

۲ .د مورفیم او خپلواک مورفیم تر منځ څه توپیر دی، او خپلواک مورفیم په پښتو ژبه کې څنګه تعریفېږی؟

۳ .د اسم خپلواک مورفیم د معنایی، مورفولوژیک او نحوی اړخونو له مخې کومې ځانګړې کټګورۍ او ځانګړتیاوې لری؟

۴ .په پښتو ژبه کې خپلواک مورفیم (نوم) څنګه تشخیص، تجزیه او طبقه‌بندۍ کېږی؟

۳- د جملې په جوړښت کې د نوم ارزښت او دریځ څه دی؟

## د څېړنې ارزښت

د دې موضوع اهمیت او ارزښت په دې کې دی ، چې د نوم د اررښت او دریځ د معلومولو لپاره ترسره شوې ده ، معنا داچې نوم د کومو ګرامری ښکلاوو څخه برخمن دی، دغه راز څرګنده شی، چې د نوم اهمیت او ارزښت په ګرامر( ژبه) کې څه دی؟ دا اود داسې نورو ځانګړنو ترڅنګ په دې څېړنه کې دا هم څرګنده شوې ، چې په ټولیزه توګه نوم د انسانی افکارود انتقال ، د یوخپلواک مورفیم په تو ګه څه ارزښت او دریځ لری، دیادونې وړه ده ، چې داڅېړنه نوې ده او تراوسه پر داسې عنوان چا کار نه دی کړی ؛ که یې کړی هم وی ؛ زه ورسره مخ نه شوم.

## د څېړنې موخې

ا- صلی موخه: یاده څېړنه د نوم د ارزښت او دریځ د څرګندولو په موخې ترسره شوی ده ؛ ترڅودا ارزښت په ډاګه شی ، چې ایا په روښتیا نوم په کلام کې د معنا او مفهوم د پوره کولو او افاده کول متمم دی ، دغه رازدا خبره هم روښانه شی چې نوم کوم ډولونه لری.

## فرعی موخې:

۲ .د مورفیم، خپلواک مورفیم او اسم د خپلواک مورفیم د مفاهیمو روښانه کول او د هغوی ترمنځ توپیر څرګندول.

۳ .په پښتو ژبه کې د اسم خپلواک مورفیم د جوړښت، کټګوریو او ډولونو پېژندنه او طبقه‌بندی کول.

۴ .د اسم خپلواک مورفیم د معنایی، صرفی (مورفولوژیک) او نحوی ارزښت په علمی ډول څېړل.

## د څېړنې شالید

د څېړنې د یو اساسی رکن په تو ګه د موضوع نوی والی د څېړونکی لپاره یو مهم او پرځای اصل دی، ځکه د څېړنې موخه او دنده هم د یو ورک او مبهم څیز روښانه کول او په ډاګه کول دی ؛ نوما هم د همدې ځانګړونو په نظرکې نیولو سره په ګرامر کې د نوم جوړښت او درېځ ترعنوان لاندې موضوع د څېړنېزې مقالې لپاره وټاکله، او دا کار مې د څېړنې د اصولو مطابق د خپلې خوښې پر بنسټ وکړځکه زه باوری یم ، چې یاده موضوع نوې ده؛ که څه هم د نوم په هکله ډېرې څېړنې شوی دی او د یاد خپلواک فورفیم ارزښت او درېځ څېړونکو په خپلو څېړنو کې بیان کړی دی ؛ دبېلګې په ډول که څه هم د پوهاند محمد صابرخویشکی( پښتو فونولوژی او فورفولوژی، معاصرګرامر)، د پوهاند صدیق الله رشتین ګرامررونه)، دسید محی الدین ( پښتو لنډ ګرامر)، دپوهاند محمد آقا شیرزاد ( فورفولوژی)، د پوهاند مجاور احمد زیار( پښتو پیښنویه) او داسې نورو څېړنیزو آثارو کې نوم تشریح شوی؛ ، خو د څېړنې توپیر دا دی،چې تر دې ځانګړې عنوان لاندې یوه کرښه هم زما مخې ته را نغله.

## د څېړنې میتود

دا دهرې څېړنې غوښتنه ده ، چې د یو خاص میتود یا روش له مخې ترسره شی ؛ نو ما د دې څېړنې او ګروېږنې د ترسره کولو لپاره له تحلیلی او تشریحی میتود څخه ګته اخیستی ده .

## د څېړنې موندنې

### نوم او ډلې یې

په پښتوژبه کې نومونه پرخلورو ډلو (ګروپونو) وېشل کېږی:

**الف:** د څېزنومونه

**ب:** ستاینومونه

**ج:** شمېر نومونه

د: نومځړی

**الف: څېزنوم:** چې دودیز ژبپوهان یې نوم بولی، یو داسې نوم دی، چې نیغ پر نیغه د یوه څېز یا ښکارندې (پدېدې) نومونه او څرګندونه کوی، چې د معنا او مفهوم له مخې لاندې ډولونه لری:

**۱- معنا نوم :** هغه څه نوموی چې توکیز او نګېرند ( مادی او محســوس نه وی او په دې ډول بهرنی شتون ونه لری لکه نیکی، بدی ، سـمون، روغتیا، مېړانه ښـهانه ....، په دې لړ کې هر ګوره ، ستاینوم ، لکه : ښه ، بد په ځانی ډول د پوهاوی وړ نه دی ، بلکې له یوه څیز نوم سره په ملتیا د پوهاوی وړتیا موندلی شی ، لکه : ښه وګړی ، بد وګړی... :

**۲- ذات نوم( پژنوم)** : هغه نوم ته ویل کېږي، چې په یو حس څېز باندې دلالت کوي، یا په بله وینا، په یو حس کېدونکې څېز یا شـــی پورې اړه لري، لکه: کتاب، قلم، ډبره، اوبه، لاس، لرګی.ژوی، بوټی ، غر ، اوبه ، سیند ....

**۳-عام نوم ( ټولنوم)** : هغه نوم ته ویل کېږي، چې یوځانګړی شـخص یا څېز نه نوموي، یا په بل عبارت، هغه نوم، چې ځانګړی او خاص نه وي، لکه: سـړی، ښـځه،مور، پلار، بازار، سـیند، ځنګل،څناور، میوه، توت، ګل، اغزی، ختّه، ګټه،ښار ،مېنه ، کوڅه، کور، کورنۍ شودې، مستې هیواد، ولس، ونه او داسې نور.

زیار، (۱۳۹۶ ل:۳۵)

**۴- جنس نوم** ( نوږ نوم): هغه نوم ته وایي، چې په یو نه شـــمېرېدونکې څېزیا شـــی پورې اړه ولري، لکه: اوبه، غنم ، غوړي، واښه ، کوچ.

زیاتره نور نومونه ډېرګړی دي . د دا راز نومونو نرینه او ښځینه توپیر د پایلو له مخې کېږي . نرینه، لکه غنم، غوړي سابه (د) سبو) ؛ ښځینه لکه اوبه اوربشې نکریزې، شودې، مستې چې ګړدودی ځېل یې شوده" او "ماسته" ډېرګړی نرینه راځي .

ځېنې نور نومونه یا یوګړي راځي او یا هم ډېرګړي لکه خاوره ایره، غله، مالګه، شـبکره، پوره چې کله ناکله ډېر ګړي کېدای شي، خو په ټولیز ډول یو ګړي نوږ نومونه د نه شمېرل کېدونکیو، یا په بله مانا ، د کچې (مقدار) غوندې ورســـره ډېرګړي ناټیکنومځری راځي، لکه نوره وســـپنه، نوره خاوره نوره غله نوره ختّه یا له " څه "، " ځیني "، " ټول "، واړه ســره . دا چې بله خاوره، بله وســپنه ویل کېږي موخه ترې بېلا بېل ډولونه دي . د همدغو ډولو له مخې ځېنې ډېرګړي نوږ نومونه پر یوګړي هم اړول کېږي، لکه : د غزنې غوړي ښه دي، د کندوز اوبه ښې دي، غنمان، توتان ... بیا د ډېرښت لپاره هم ویل کېږي. (زیار، ۱۳۸۲ ل:۶۵)

**۵-جمع نوم** یا غونډ نوم :هغه نوم ته ویل کېږي، چې لفظاً مفرد او په معنا کې جمع وي،لکه: لښــکر، رمه، اردو، ولس ، ټولنه، ټولګی ، لوبډله ، ګونډ، قوم ، کنډک ، لښــکر ، جرګه.(حســام ۱۳۹۸، ل: ۱۵)

**۶- صــوت نوم** یا انګینوم نوم : د طبیعي یا مصـــنوعي آوازونو انګازه نوموي ، لکه درزهار ، کرپهار،ترپهار ....

**۷- خاص نوم (ځانګړنوم):** هغه نوم ته ویل کېږي، چې پریو ځانګړې څېز یا شـی، پدېدې ،یا خاص ځایونه او اشـــخاص نوموي، لکه: پښــتو ژبه، پښــتو لهجه، کندهار، بدخشــان، کابل، وردوج.

خاص نوم د استعمال له مخې څو نور ډولونه هم لري چې په لاندې توګه ښودل کیږي:

**الف - محض نوم:** هغه نوم چې د زیږیدنې پر وخت د یو چا لپاره وضع شوی وی .

لکه: حمزه خوشحال، حمید، عجب خان او نور....

**ب - لقب :** هغه نوم دی چې د یو صفت یا خصوصیت له مخې د درناوی په توګه چاته ورکړل شوی او پر هغې مشهور شوی وی.لکه بابا ، نیکه خوشحال بابا ، میرویس نیکه ،

لکه : میاګل پاچاګل شیر آغا ،لمرنشان ، لوی مختار، لوی ملک او نور.

**ج - عرف:** لنډ نوم دی چې د مینې یا حقارت له مخې استعمالیږی .

لکه : جانو ، ګلو ، شینو او داسې نور.

**د - تخلص:** دا هم لنډ نوم دی چې عام خلک ، شاعران او لیکوالان یې د ځان لپاره ټاکی.

لکه : هجری ، شیدا، خادم ، الفت، رشاد، رښتین او نور. (شېرزاد،۱۳۹۹: ۶۷)

## د لفظی جوړښت له مخې د نومونو ډولونه

## په پښتو ژبه کې د لفظی جوړښت له مخې نومونه پر درې ډوله دی

الف: ساده نومونه

ب: مشتق نومونه

ج: مرکب نومونه

**الف: ساده نومونه :** هغه نومونوته ویل کیږی، چې له یوې اساسی ریښې څخه جوړوی او نورمختاړی، روستاړی او مرکبات ونه لری، لکه : قلم ،کتاب، اوبه، ژبه.

**ب: مشتق (اشتقاقی ) نومونه :** هغه نومونه ته وایی، چې یوه مستقله ریښه ولری او هم وسره مختاړی او روستاړی منځ ته راغلی وی یا په بله وینا، هغه نومونه، چې له یوه ساده ویې او یو تاړی څخه رغیږی.لکه: روغتیا، اوښتیا، کلیوال، بڼوال، کورنی، احمدزی، ختګر.

**ج: مرکب نومونه :** هغه نومونه ته ویل کیږی، چې له دوه اساسی یا خپلواکو ریښو څخه جوړشوې وی یا داچې له دوساده ویې د یوځای والی په ترج کې رامنځ ته کیږی، لکه: شیرپور، جلال آباد، فیض آباد، میدان مېنه ، شیرشاه سوری، احمدشاه ( شېرزاد۱۳۹۹:۶۷)

**د نوم ګردانی اړخونه :** نوم په پښتو ژبه کې په ټولیزه توګه د درو اړخونو له مخې ګردانیږی:

۱- جنس ۲- عدد ۳- حالت

## ۱- د نوم ګردان د جنس له مخې:

په پښتو ژبه کې د جنس له ګردان څخه مطلب دادی، چې نوم نارینه دی؛ که ښځینه دی، یا په بل عبارت د جنس له مخې په پښتو ژبه کې نومونه د جنسیت په اعتبار پرنارینه او ښځینه باندې وېشل کیږی. دغه راز د ګرامری اصولو له مخې یاد نارینه او ښځینه نومونه بیا په جلاجلا توګه په یاده ژبه کې ځانګړی پایلې یا نښې لری، چې د هغوی په وسیله پېژندل کیږی.

**الف: د نارینه نوم پایلې یا نښې :** ټول هغه نومونو او صفتونو، چې په پای کې دغه یاد« نرمه (ی،ay)، لنډ و(u)، زورکی (ه،a) ، نرم و (aw) اوکانسونیټ توری یا داچې ټول هغه نومونه چې د (aw) یعنی زوکی +سیمی واول څخه پرته پرنورو دفتانګونو پای ته رسیدلی وی ، د ګرامری قاعدې له مخې په نارینه نومونو کې راځی، ساری یې لکه: ی(ay) سړی. و،(u)، چاکو. زروکی (a) نیکه. و،(aw) پلو. پړاو.

**ب: د ښځنه نوم پایلې یا نښې :** ټول هغه نومونه یا صفتونه، چې په دغو نښو او غږونو، لکه: اوږده (ې، e)، اوږد (و،o) ، الف ا ( a، ) څرګنه ی (i) زورکی واله(ۍ) اود(aw)،غبرګغږ پای وی. د ګرامری قاعدې له مخې د ښځینه ( مونث) نومونه په ډله کې راځی، لکه: ې، منې، ژبې. اوږد (و) پښتو، زانګو. ا، اسیا، امریکا. ۍ، کړکۍ، نرۍ. ی، دوستی، خوشحالی. او د ( aw )،غبرګغږ،لکه: کټوه.

**۲- د ګڼې** (عدد ) څخه د نوم ګردانی اړخ موخه دا ده، چې یونوم مفرد دی؛ که جمع. د دې مطلب د روښـــانتیا لپاره په پښـــتو ګرامر کې د نارینه او ښـــځینه مفرد نومونو د جمعه کولو لپاره ځانګړی روستاړی یا پایلې موجودې دی.

**الف: د نارینه نوم د جمعې پایلې یا نښې:** د پښتو ژبې ګرامرکې د نارینه نومونو د جمعې پایلې له( آن، یان، ګان، ونه او د زورکی روستاړی څخه عبارت دی.بېلګې: هلک ـ هکان افغان- افغانان ملا- ملایان پښتو صرف او نحو، کابل . د پوهنې وزارت محمد صدیق ریښتین ۱۳۷۰

۱- آن، روستاړی

الف: زیاتره هغه نومونه، چې په بېواک غږ او ځینې هغه نومونه، چې په خپلواک غږ پای او ساکښ وی. د آن په روستاړی سره جمع کېږی، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| مچ | مچان |
| کب | کبان |
| کارغه | کارغان |
| مرغه | مرغان |

ب: په نرمه ( ی ) غبرګغږ ختم شوی نومونه، د ګرامرې قاعدې له مخې ځینې یې په( ان) او ځینې نور یې د څرګندې (ی) په راوړلو سره جمع کېږی، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ستوری | ستوری | کابلی | کابلیان |
| لوښی | لوښې | زمری | زمریان |

کابلی کابلی لمسی لمسیان

## ۲- د(ونه ) روستاړی

**الف:** زیاتره هغه نومونه، چې په بېواک غږ پای وی او ساکښ نه وی، په ونه روستاړی جمع کېږی، لکه:

| | |
|---|---|
| مفرد | جمع |
| کتاب | کتابونه |
| قلم | قلمونه |

ب: ځینې په یوه خپلواک پای او ځینې په خپلواک غبرګغږ پای نومونه، چې نارینه نومونه وی، په ( ونه ) روستاړی جمع کېږی، لکه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| یوکړی(مفرد) | ډېرګړی(جمع) | یوګړی(مفرد) | ډېرګړی (جمع) |
| پلو | پلونه | تره | ترونه |
| لو | لونه | وراه | وریرونه |

## ۳- د زورکی (a) روستاړی

الف: ځینې یو څپیز نومونه او ستاینومونه، چې په کانسونینټ غږپای وی. په زورکی(نښې) سره جمع کېږی، لکه:

| | |
|---|---|
| مفرد | جمع |
| غل | غله |
| مل | مله |
| شین | شنه |
| سور | سره |

ب: زیاتره هغه نومونه او ستاینومونه ، چې د کلمې د منځ خپلواک غږونه یې(و، ی) دی. د جمع کولو په وخت کې یاد غږونه له منځه ځی او الف( a) وربانديې زیاتېږی او د ګرامری قاعدو له مخې په زورکی روستاړی سره جمع کېږی .

| | | | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| پښتون | پښتانه | تریخ | تراخه |
| ړوند | ړانده | پوخ | پاخه |
| شپون | شپانه | اوم | وامه |

**ب: د ښـځینه نوم د جمعې پایلې یا نښې :** په پښتو ژبه کې ټول هغه نومونه، چې د ځانګړو پایلویا غږونو(ې، ا، ه، ی، ۍ، و) له مخې مونث (ښځینه ) نومونه بلل شوی دی. د

ګرامری قاعدو له مخې په دغو روستاړو (ې، ۍ، وی، ګانې، انې، انی، ی ندې ) یا (نښــو) ســره جمع کېږی.

## ۱- ې (e) روستاړی

الف: ټول هغه نومونه، چې د (a) په خپلواک پای شــوی دی، د (ې e،) روســتاړی په راوړلو ســره جمع کېږی، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ونه | ونې |
| پزه | پزې |
| شننه | شننې |

## ۲- ۍ (ay) روستاړی

ب: ټول هغه مفرد مونـث نومونـه، چې پـه (ی =i) ، خپلواک غږ پـای دی، د زورکی والـه (ۍ) روستاړی سره جمع کیږی،لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| دوستی | دوستۍ |
| خوشحالی | خوشحالۍ |
| خپلوی | خپلوۍ |
| سیالی | سیالۍ |

## ۳-د( ګانې) روستاړی

الف: ټول هغه نومونه او ســتاینومونه، چې ښــځینه دی او د آلف(a) په خپلواک غږ پای وی. د ګانې روســتاړی په راوړلو ســره جمع کېږی. یاده دې وې، چې یاد نومونه او ســتاینومنه د ګانې روســتاړی برسېره، په ځینو ګرامرونو کې د( وې ) روســتاړی په راوړلو ســره هم جمع شــوې دی، لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| خندا | خندا ګانې | خندا | خنداوې |
| ملا | ملاګانې | ملا | ملاوې |

ب: ځینو هغه مفرد ســاکنبی ښــځینه نومونه، چې په زورکی واله (ۍ) ختم شــوې وی، په ”ګانې“ روستاړی جمع کېږی، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| بوډۍ | بوډګانې |

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمی څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

ابۍ ابۍ ګانې
ډوډۍ ډوډۍ ګانې

یادونه: دغه راز د دغو نومونو مفردې او جمع بڼې هم یو راز راتلای شی، لکه بوډۍ ښځه ، بوډۍ ښځې. همدارنګه ځینې وختونه یې په(یانې) هم جمع کوی،لکه: ډوډیانې ، چې په کې لنډیز هم راځی.

ج: ټول هغه نومونه، چې په اوږد و،) یعنی خپلواک غږ پای وی،د''ګانې'' روستاړی په راوړلو سره جمع کېږی.لکه :

مفرد جمع
بیزو بیزوګانې
ورشو ورشو ګانې

د: ځینې هغه نومونه، چې په زورکې واله (ۍ) ختم وی،په ''ګانې'' سره جمع کېږی.

مفرد جمع
څوکۍ څوکۍ ګانې
رسۍ رسۍ ګانې

## ۴- انې ،روستاړی

زیاتره هغه ښځینه نومونه، چې پر (ی) پای شوې وی، په (انې) روستاړی جمع کیږی، لکه:

مفرد جمع
دوبی دویانې
بیاتې بیاتیانې

۵- یندې روستاړی

هماغه بېواک پای نومونه جمع کوی، چې ورســره لنډون هم مومی،لکه : میندې، خویندې، تریندې.

نږندې او ناکره شکل یې، مورګانې، خورګانې، (خویشکی،۱۳۸۸ ل:۳۴-۳۸)

## درېیم : حالت

د پښتو ژبې د نوم د ګردانی حالت څخه مطلب دا دی، چې نوم په خپل چاپریال (غونډه، غونډله ) کې څه حالت لری. له دې پلوه نومونه له اره یوه غونډله پوهنیزه (نحوې) ســکالوګڼل کېږی او له ګړپوهنیز(صــرف) پلوه یې یوازې هغه بېلګې د پام وړ دی، چې اوښــتون رامنځته کوی، لکه: پلوشې ډوډۍ وخوړه (زیار، ۱۳۸۲: ۹۲).

په پښتـــتو ژبه کې نوم د ګردانی حالت له مخې بېلابېل ډولونه لری، چې په لاندې ډول ښـــودل کېږی:

**الف: د نوم فاعلی حالت** :چې یو نوم په غونډله کې فاعل واقع شـــی، معنا داچې یو کار او عمل ترې صـــادر شـــی،لکه: ننګیالی مقاله لیکی. محصـــل کتاب لولی. زرمینه مڼه خوری. په یادوغونډلوکې (ننګیالی، محصل، زرمینه ) فاعلی حالت لری.

**ب: د نوم مفعولی حالت:**هغه حالت ته ویل کېږی، چې یونوم په غونډله کې د مســـتقیم او غیرمستقیم مفعول په توګه راشی،لکه: احمد ماته ډوډۍ پخوی. احمد زرمینې ته کتاب لولی. په یادو غونډلوکې (ما، زرمینه ) غیرمســـتقیم مفعول، همدارنګه نوم د مســـتقیم مفعول په توګه لکه: احمد ډوډۍ خوړلی ده. محمود مقاله لیکلې ده. احمد ما وهی. په تېرو یادو غونډلوکې، ډوډۍ، مقاله، ما ، د مســـتقیم مفعول په توګه راغلی او مفعولی حالت لری. یا په بل عبارت، که چېرې په یوه غونډله کې نوم مفعول واقع شـــی. د نوم دغه حالت ته مفعولی حالت وایی ،لکه: په لاندې غونډلوکې، توریالی خط لیکی . ګلالی کتاب لولی.

په پورته غونډلوکې(خط، کتاب) هغه کلمې دې، چې مفعول واقع شـــوی او د نوم دغه حالت ته مفعولی حالت وایی.یا لکه بریالی ډوډۍ خوری، ملالی درس وایی. (ریښتین،۱۳۴۱ ل : ۲۶)

**الف: اوښتونکی نومونه**

**ب: نه اوښتونکی نومونه**

**الف: اوښـتونکی نومونه:** په پښـتو ژبه کې ځینې داسې نومونه شـته، چې په مفرده بڼه په هیڅ ډول تغیرنه کوی؛ خوکله چې د مفرد حالت څخه په نحوې چاپریال(غونډله،غونډ) کې راشـــی؛ نو بیا د اوښـتون سـره مخامخ کیږی یا په بله وینا، ټول هغه نومونه اوسـتاینومونه، چې په لاندې نښـنو اوپایلو پای وی: د اوښتونکو نومونه په ډله کې راځی:

۱- په نرمه ی (ay) پای نومونه،لکه: سړی = سړی. پردی = پردی.

۲- په ه (a) خپلواک غږ پای نومونه ،لکه: ځانګه=ځانګې. زرځانګه = زرځانګې . ګل مکه = ګل مکې.

۳- ځینې یو څپیزنومونه اوصفتونه چې په کانسوننټ پای دی،لکه: سور= سره، شین = شنه

۴- هغه نومونه، چې د منځ و(o) یې پر(a) خپلواک غږ بـدلېږی اوپـه پـای کې د زورکی واول ورزیاتېږی،لکه: پښتون= پښتانه.شپون = شپانه. ړوند= ړانده.

۵- شخصی نومځړی،لکه:(زه، ما، ته ، تا، دی، ده، دې، دا ).

۶- د ځینو استفهامی نومځړو دویمی حالت،لکه: څوک، چا. کوم، کومې.

۷- اشــاری ضــمایرهم د ګرامری قاعد له مخې بېلابېل حالتونه ( اصــلی او غیراصــلی ) حالتونه لري،لکه:

نږدې دغه دغه دغ

لېرې هغه هغه هغې

لالېرې هوغه هوغه هغوي (خویشکی، ۷۸: ۱۳۹۵).

په پښتو ژبه کې د اوښتونکونومونه برسېره ځینې داسې نومونه شته ، کله چې د ګرامری قاعدې له مخې په یو نحوي چاپریال (غونډله) کې په مفرده بڼه راشـــی؛ نو په ټولو حالتونو کې په یو ډول راځی اوپه پای کې یې کوم واولی یا فونمیکې تغییر نه رامنځته کېږی.د غه نومونه په لاندې ډول دی:

۱- هغه نومونه،چې په "ا" (a) ختم وی،لکه: کاکا، ماما، دا دا، سبا، غونډلیزه بیلګه یې،لکه: سبا اختردی.

۲- هغه نومونه، چې په پای کې اوږد'و" (o) راغلی وی،لکه:زانګو، پښــتو، ورشــو، ښــارو. ښــارو راغله.

۳- هغه نارینه نومونه اوستاینومونه ،چې په زروکی والې "ی"(ay) ختم وی،لکه: څپلی، نری، ما خپلې نری ته سترګې دی.

۴- هغه نومونه، چې په اوږده "ې" (e) پای وی،لکه: ادې، ناوې، شیدې، ناوې ډوډی پخه کړه.

۵- هغه نارینه نومونه، چې په زروکی(a) پای وی،لکه: زړه، نیکه، تره. تره د پلار پرځای دی.

۶-هغه نارینه نومونه، چې په څرګنده "ی'(i)ختم شوې وی،لکه:دوبی، خوشحالی، دوستی، ما ته دوبی خبره وکړه.

۷- ځینې هغه نومونه اوستاینومونه، چې د شریکوصفاتو په نامه یادېږی او دغه نومونه که په 'ه'(a) خپلواک غږپای وی، تغیرنه کوی، لکه: پیاده، ساده، کوربه، ښـایسته. په ټولیزه توګه ویلی شـم، چې ټول هغه نومونه، چې په( الف(a)، اوږد(o) اوږده (e)، زورکې واله (ay)، څرګنده"ی" (i)، زورکی او هغه شــریک صــفات چې په "ه" (a) واول ختم دی. د ګرامری قاعدې له مخې نه اوښتونکی نومونه دی. (شېرزاد، ۱۳۹۹: ۸۴-۸۵)

## پایله

خپلواک مورفیم (نوم) د پښــتو ګرامر یو مهم او بنســټیز عنصــر دی چې په خپلواکه توګه مانا څرګندوی. نومونه د ژبې هغه برخې دی چې د انسان، ځای، شی، یا مفکورې استازیتوب کوی. دا مورفیمونه کولای شـی بې له کوم بل تړلی مورفیم څخه په جمله کې وکارول شـی او بشـپړه مانا ولری. د جوړښت له مخې نومونه ساده او مرکب ډولونه لری چې هر یو یې ځانګړې بڼه او کارونه

لري. په جمله کې نومونه د فاعل، مفعول، متمم او خبر په توګه راځي او د جملې مانا بشپړوي. د نومونو دریځ د جملې په نحوی جوړښت کې ډېر مهم دی او د جملې د سم فهم سبب ګرځي. سربېره پر دې، نومونه د نورو کلمو سره اړیکې ټینګوي او د ژبې د نظم ساتلو کې مرسته کوي. که نومونه په سمه توګه وکارول شي، جمله روښانه او مفهوم یې اسانه درک کېږي. په پایله کې، خپلواک مورفیم (نوم) د پښتو ژبې د جوړښت او مانا په انتقال کې مهم رول لري.

## وړاندیزونه

۱. اړینه ده چې د پښتو ژبپوهنې څېړونکی د مورفولوژۍ په برخه کې لا ژورې څېړنې ترسره کړي، په ځانګړې ډول د خپلواک مورفیم د اسم د معنایي، مورفولوژیک او نحوی تحلیل په اړخونو کې.

۲ .د پښتو ژبې د مورفیمی سیستم د نړیوالو نظریو (لکه چامسکی، آرونوف، کریستل) پر بنسټ د معیاری څېړنو ترسره کول باید تشویق شي، څو پښتو د نړیوال علمی بحث برخه وګرځي.

۳ .د یوې جامع او معیاری پښتو مورفولوژۍ د لیکلو اړتیا شته چې د

۲. مورفیمونو تعریف، ډولونه، جوړښت او د اسم خپلواک مورفیم روښانه کړي.

# اخځلیکونه

چمتو، محمد قسیم.( ۱۴۰۰ ل).د پښتوژبې فونولوژیکی اومورفولوژیکی بدلون.کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

حسام ، علاوالدین .۱۳۹۸ ل . وییپوهنه . جلال آباد : هاشمی خپرندویه ټولنه

خویشکی، محمد صابر. ( ۱۳۹۵ل).پښتو معاصرګرامر.کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه. -

خویشکی، محمد صابر.(۱۳۹۲ل ) پښتو فونولوژی او مورفولوژی.جلا آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

ریښتین ، صدیق الله ۱۳۴۱ ل ،ژبښودنه ، کابل ، پښتو ټولنه .

زیار، مجاوراحمد.( ۱۳۸۲ل) پښتو پښویه، دویم چاپ. پېښور: دانش خپرندویه

شېرزاد، محمد آقا.(۱۳۹۷ ل).پښتو ګرامر.کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

شېرزاد،محمد آقا ،۱۳۹۹.مورفولوژی دریم چاپ.کابل:نویسا خپرندویه ټولنه

یار، مجاور احمد(۱۳۹۶ ل). پښتو وییپوهنه او وییرغونه ،کابل،دانش خپرندویه ټولنه